وهمچنان شماراامت وسطي ساختیم
تابرمردم گواه باشید وپیامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

٨ صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

فرمان الهي

خداوندبزرگ درکتاب مبینش فرموده است : (آیاگمان کردیدکه گذاشته شوید، درحالیکه تاهنوزمعلوم نساخته است خداوند(ج) آنعده ازشماراکه جهادکردند ونگرفتند غیرازخدا(ج) وپیغمبرش وغیر مومنان هیچ دوست پنهاني، وخداوند (ج) باخبراست از آنچه که میکنید . (التوبه - ١٦)

په بغلان کي دقوماندان سوالاپه گډون دوه سوه مليشه ونيول شول

بغلان :

درارسيدلي رپوټونو له مخې چې دانجنيرمحمد آصف له خوامخابره شوي

وېل کيږي ، چې مجاهدينو ، دروان کال دليندي د مياشتې په اوه لسمه نيټه دقوماندان ولي پرمرکزونو چې په خادپوري ترلي وو بريالي عمليات ترسره کړل چې دمجاهدينو عمليات په ترڅ کې نوموړي مرکزونه فتحه شول .

په بل رپوټ کې وېل شوي چې دنوموړي ولايت سرتيرو مجاهدينو دقوماندان محمد رسول "جاويد " ترمشري لاندې دنوروجهادي قوماندانانو په گډون دروان کال دليندي دمياشتې په نهمه نيټه دنوموړي ولايت ددهنه غوري په سيمه کې دملحدرژيم پرځالو بريالي عمليات ترسره کړل چې ددغوعملياتو په ترڅ کې دملحدرژيم يوقوماندان داپوپه نامه مراوپوېل قوماندان سوالا ددوسوو تنوافرادوپه گډون په اسارت ونيول شو .

خبرزياتوي چې ددغوعملياتو په ترڅ کي دشهيد داکتراسماعيل دسيمې زيانه برخه دملحدرژيم دکنترول څخه ايستلي اوآزاد ، شوي ده .

په خبرکي داهم راغلي چې په دغو عملياتوکي څلورتنه مجاهدين په شهادت ورسيدل . روح دې ئې ښاداويادې تل وي .

په يوبل رپوټ کي چې دنوموړي ولايت څخه رارسيدلي دنوموړي ولايت سرتيرومجاهدينو دروان کال دليندي مياشتې په اومه نيټه دقوماندان بشيرخان ترمشري دخوموږدي نه راپه دي خوا دسيند څخه پورې غاړه دخادپه مرکزونو اوپوستوعمليات پيل کړي دي خوتراوسه ددغوعملياتو کوم رپوټ نه دي رارسيدلي

شماره مسلسل (٤١٤) سال چهاردهم ،شماره (١١٠) يکشنبه (٢٤)قوس ١٣٧٠ هـ .ش- (٩)جمادي الثاني ١٤١٢ هـ.ق- (١٥)دسمبر ١٩٩١م

پنج جمهوری آسیای میانه شمولیت شان را در اتحادیه مشترك المنافع سلاویك اعلان نمود

تاس آژانس خبررساني شوروي گزارش میدهدکه : رهبران قزاقستان ، قرغزستان ، تاجکستان ،و ترکمنستان وازبکستان میگویند: آماده اند درصورتیکه بحیث اعضاي مساوي موسس پذیرفته شوند به این جامعه بپیوندند .

جامعه جدید مشترك المنافع صلاحیت اجرائي مرکزي نخواهد داشت وانتظارمیرود که درآن نقشي براي گرباچوف رئیس جمهورشوروي وجود داشته باشد . امکان میرود گرباچوف قبل ازانهدام حکومت مرکزي شوروي ازمقامش استعفا بدهد .

بوریس یلتسین رئیس جمهوري روسیه باتقاضاي پنج جمهوري آسیاي میانه موافقت کرده وهفته جاري براي تصویب موافقتنامه به قزاقستان خواهد رفت .

ملیشه هاي گلیم جم دراین اواخردست به قطع وغارت درخت هاي مثمرباغهاي اطراف کابل زدند

خبرگزاري میدیا به نقل ازخبار هاي ارسالي قرارگاه هاي مجاهدین مستقردر اطراف کابل گزارش میدهد که ملیشه هاي بدنام گلم جم که درظلم چورو چپاول دارائي هاي عامه شهرت دارند ، بارسیدن فصل زمستان به غرض تأمین مواد محروقاتي قطعات مربوط خویش به قطع درختان مثمر باغات اطراف کابل سرعت بخشیده اند .

گزارش علاوه میکند : قبلاً ملیشه هاي مذکور هنگام عملیات علیه مجاهدین دراطراف کابل وحین بازگشت به شهر، درختان اطراف جاده ها واشجار منازل مردم محل را قطع وچوب آنرا براي استفاده به قطعات ملیشه هاویاقسماً جهت فروش به بازارهاي کابل مي بردند .

اکنون این ملیشه هانه تنها دست به قطع اشجارمثمر باغات زده بلکه به این پروسه . درحال حاضر دراطراف کابل بخصوص ولسوالي بگرامي که درپانزده کیلومتري جنوب شرق کابل موقعیت دارد شدت بخشیده اند .

هم چنان ملیشه هاي مذکور به این جنایت بسنده نکرده به تخریب منازل مسکوني پرداخته وچوب کارشده درمنازل را جمع آوري وبه شهر انتقال میدهند که این عمل خاینانه وجنایتکارانه گلم جم ها قهروغضب مردم را بیش ازپیش برانگیخته است .

طبق گزارش : قوماندانان مستقر درولسوالي بگرامي بامشاهده این وضع طي جلسه درهفته گذشته به ملیشه هاي مذکور اخطارکرده اند درصورت ادامه به جنایت به اقدام جدي علیه آنهادست خواهند زد .

مقامات رژیم کابل بادرنظرداشت اخطاریه مجاهدین ، ازملیشه هاي گلم جم خواسته اند تابیش ازاین به اعمال غارتگرانه دست نزنند اماطبق گزارش به این خواست مقامات رژیم وقعي گذاشته نشده است .

اطلاع اضافه میکند : مجاهدین درحال حاضر درصدد تهیه مقدمات اقدامات مقتضي دربرابراین تجاوز ملیشه هاي مذکورهستند .

مجاهدین جبهات شهید افضلي موفق به فتح سه پوسته حفاظتی رژیم مزدورگردیدند

نمایندگي سیاسي جبهات شهید افضلي درپشاور به روزنامه شهادت خبرمیدهد که مجاهدین باشهامت جبهات شهید افضلي بتاریخ ١٧ور٨ ١٣٧٠ با انجام یك عملیات پیروزمندانه موفق به فتح یك پوسته حفاظتي فرقه هفده هرات درمنطقه گازرگاه گردیدند .

خبرمي افزاید : درنتیجه این عملیات سه تن ازنیروهاي دولت مزدور هلاك و دوتن دیگرزخمي گردیدند . چهارمیل کلاشینکوف ویك میل راکت آرپي جي ٧ به غنیمت مجاهدین درآمد .

وهم چنان بتاریخ ٢٣ ر٨ر ١٣٧٠ مجاهدین جبهات شهید افضلي درمنطقه گزه ولسوالي غوریان یك پوسته حفاظتي رژیم را درمسیرسرك هرات - اسلام قلعه فتح نمودند که درنتیجه شش تن ازافراد دشمن اسیرو یك میل ماشیندار گرینوف ، چهارمیل کلاشینکوف ویك میل چهارنیر به غنیمت مجاهدین درآمد .

طي یك عملیات دیگر بتاریخ ٢٣ر٨ر ١٣٧٠ مجاهدین جبهات شهید افضلي در زنده جان هرات یك پوسته حفاظتي رژیم رافتح نمودندکه درنتیجه ٤ تن از افراد دشمن هلاك وچهارمیل کلاشینکوف ویك میل گرینوف به غنیمت مجاهدین درآمد .

چين اوهند دري موافقي لاسليك کړي

نوي ډيلي : دليندي ٢٢ نيټه

دچين اوهند صدراعظمانو ليپنگ اوناراسيما راودشوروي له گډوډي نه وروسته دنړي وال حالت په هکله انديښني څرگندي کړي دي .

پرون په ډيلي کې دوي دخپلو لمري پراوخبروپه ترڅ کي په دي خبره يوه خوله وو چې هيڅ يوهيواد ته اجازه ورکول نه دي په کار چې د نړيوالوچاروکې گوتوهنه وکړي .

خبريالان وايي چې دغه تکي په غيرمستقيم دول پرامريکايوگوزاردي .

دکشمير په هکله ليپنگ دچين په پخواني دريځ دټينگار په ترڅ کي دا هيله ښکاره کړه چې هند اوپاکستان به ددي لانجي سوله ايزحل راوباسي .

دواړو مشرانو دچين اوهند ترمينځه دپولي دلانجي دڅه مناسبه حل دراوستوهيله ځرگنده کړه . ولي تراوسه په دي هکله څه پرمختگ نه دي شوي .

په بل خبر کي راغلي چې دواړومشرانو دتجارت ، دفنلگريوداتاسيس اودتکنالوژي د راکړي ورکړي په هکله دري موافقي لاسليك کړي .

پاکستان استقلال آذربائیجان رابرسمیت شناخت

نوازشریف صدراعظم پاکستان اعلام کرده است که دولت متبوع اواستقلال آذربایجان شوروي را برسمیت مي شناسد خبر گزاري دولتي پاکستان به نقل از نوازشریف اظهار داشت که کشور او هم چنان کمکهاي اقتصادي وسیاسي در اختیار آذربایجان که اکثریت جمعیت آن مسلمان است قرارخواهد داد .

نوازشریف که پس از بازگشت از اجلاس سازمان کنفرانس اسلامي درداکار صحبت میکرد اظهار داشت که این تصمیم به روابط پاکستان باشوروي لطمه نخواهد زد .

دراجلاس مورد بحث آذربایجان به عضویت کامل سازمان کنفرانس اسلامي درآمد .

درصورتیکه اکثریت جمهوری های شوروی ازجامعه مشترك المنافع پشتیبانی کنندا ستعفاخواهم داد

گرباچوف

نزدیکان گرباچوف رئیس جمهوري شوروي میگویند :وي درنظردارد درصورتیکه اکثریت دوازده جمهوري شوروي پلان جامعه مشترك المنافع را مورد تائید قراردهند ازمقام خود استعفاکند .

تاکنون این پیمان از تصویب پارلمان فدراسیون روسیه ، اوکراین وروسیه سفید گذشته است پنج جمهوري آسیاي مرکزي شوروي قول داده اندکه به این پیمان بپیوندند . هنوز معلوم نیست که چه وقت ازپارلمان این جمهوري ها درخواست خواهد شد که این پیمان را موردتصویب قراردهند .

مجاهدينو دکندهارولايت په هوايي ډگرکي دملحد رژيم يوه ترانسپورتي الوتکه داورلمبه کړه

ميديا - کندهار :

مجاهدينو دکندهاربنار، نظامي مرکزونو اوهوائي ډگرباندي دوروستي درندو توپونو دبريدونو په لړکي دليندي دمياشتي په ١٢ مه نيټه دکابل رژيم يوه ترانسپورتي الوتکه چې په هوائي ډگرکي ولاړه وه داورلمبه کړي اود هوائي ډگر بوشمير ساتونکي پدي حادثه کي وژل شويدي .

درپوټ په مطابق دکمونست رژيم دغه الوتکه څو ساعته مخکي دقواوو داکمال لپاره هوايي ډگرته ليږل شوي وه چې دمجاهدينو دراکټونو دڼيي لاندي شوه .

دا تحاد طلباالمسلمين لخواپه څمکنيوکي غونډه وشوه

څمکني : دليندي ٢١

دروان کال دليندي دمياشتې په ٢١ مه نيټه د جامعة العربيه الاسلاميه مدرسې په انگړکي دا تحاد طلبا المسلمين لخوا يوه غونډه وشوه .

پدي غونډه کي چې گڼ شمير طلباوو ، عالمانو مهاجرينو ، اواتصارو برخه درلوده دقرآن عظيم الشان دخومبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه .

دغونډي په پيل کي د جامعة العربيه اسلاميه مهتمم مولينا محمد سعيد داسلام د بشپړ قانون په باب عالمانه وينا وکړه اودخپلوخبرو په يوه برخه کي يې وويل اسلام يو مکمل نظام دي هيڅکله نورو قوانينوته اړه نلري وريسي دا تحاد طلبا المسلمين مشر کريم اوناظم نورالله همداراز هريوه اکبرخان عبدالوکيل اميرگل رحمت الله عبدالقدوس اوحبيب الله په خپل وار سره خبري وکړي .

،غونډه د برخوالو په د عا سره پاي ته ورسيده .

رژیم کابل اعضاي خلق وپرچم را تجهیزوتسلیح مینماید

خبرگزاري میدیا گزارش میدهدکه بدنبال سفرهیئت مجاهدین به مسکو، رژیم کابل تصمیم گرفته است تا افراد قابل اعتماد گروپ هاي خلق وپرچم حزب کمونیست راکه به حزب وطن تغیرنام داده درمنازل شان مجهزبه انواع اسلحه نماید.

گزارش علاوه میکند : تاکنون به عده زیادي ازحزبي ها کلاشینکوف ، تفنگچه هاي تي تي ومیکاروف بامقادیر زیادي ازمهمات توزیع گردیده تا آنها بتوانند بااستفاده ازآن در مواقع خاصي باخطرات احتمالي مقابله نمایند .

گزارش ازقول ناظرین آگاه درکابل مي افزاید : باقطع کمکهاي تسلیحاتي روسها به رژیم کابل که دراعلامیه مشترك مجاهدین ومقامات روسیه شوروي برآن تاکید شده هرآن احتمال حمله برحزبي ها درشهر ومنازل شان ازسوي مردم برده میشود . ازاینرو رژیم تصمیم به تجهیز وتسلیح افراد مربوط خود به انواع سلاح هاي خفیفه گرفته است .

طبق گزارش : سلسله شناسائي افراد قابل اعتماد حزب وتسلیح و تجهیز آنان ادامه دارد .

گزارش دراخیرعلاوه میکند : قبلاً نیز رژیم به اعضاي حزب کمونیست سلاح توزیع نموده بود که اکثرا منجربه برخورد بین آنها گردیده که بالاخره رژیم مجبورشد تاسلاح هاي توزیع شده را دوباره جمع آوري نماید .

بنام خدائیکه بی اندازه مهربان نهایت بلم ...

سر مقاله

شايعه پراگني امپرياليسم خبري

تصمیم فوق العاده دوهفته قبل رهبران احزاب خورد وبزرگ جهادي براي تشکیل شوري قیادي وحکومت مؤقت اسلامي جدید، بمثابه یکحرکت مثبت موجب بروز واکنش هاي گوناگون درمیان دوستان ودشمنان انقلاب گردید . دوستان جهاد درهرگوشه وکنارجهان توافق اخیرگروههاي اسلامي رابه تفأل نیك گرفته وبااستقبال ازین تصمیم ابراز آرزومندي نمودند تا رهبران معظم جهادي براي به کرسي نشاندن فیصله شان بذل مساعي نمایند. مگر واکنش دشمنان ازتحول اخیر طوري بودکه ماقبلاً چنان گماني را ازآنها داشتیم .

درفرداي همان روزیکه موافقه تشکیل شوري قیادي به امضا رسید ، امپریالیسم خبري ، درراس صداي امریکا وبي بي سي درصدد پالیدن دهن همان کساني شدند که به زعم آنها ازموافقه اخیردل خوش نداشتند .

امپریالیسم خبري بحدي درتاروپود بعضي ازافراد جامعه ما نفوذ نموده که حتي گاهي درنقش وسواس خناس ، تعهدات امضا شده میان مسلمانان را برهم زده و دروجود آنها روحیه عدم اعتماد به نفس وتردد راایجاد مي نماید. مامطمئن هستیم دیگر آنوقت گذشته است که استعمار بخواهد براي ملت مومن ما برنامه بدهد ویاحکومت درست نماید .

اگرروسها طي چهارده سال ازطریق تجاوز واشغال نتوانستند ، حکومت دلخواهش را درافغانستان استقرار ببخشند ، تلاش هاي غرب نیز براي حکومت سازي ودرکشورمابیحاصل خواهدبود .

درتوافق اخیر رهبران جهادي اکثریت گروهها شرکت داشتند وصرف سه گروه روي بعضي معاذیري نتوانستند درجلسه اول شرکت ورزند ، کوشش درجهت جلب ایشان به این توافق نامه جریان دارد ونشانه هاي حاکي ازسهمگیري ایشان درین تصمیم کاملا محسوس است وانشاء الله با آغاز شدن کارعملي شوري قیادي رضایت همه گروهها درزمینه حاصل خواهد گردید .

چندروزقبل آقایان خلیلي وصادقي ازرهبران حزب وحدت طي پرس کنفرانسي به خبرنگاران اطمینان دادند که طرح شوري قیادي درنوع خودکاملا بي سابقه است وحزب وحدت بعدازاستشاره باقوماندانان خود، موافقه خودرابااین طرح اعلان خواهد کرد .

گفته مي شودکه اظهاررضایت رهبران حزب وحدت ازطرح

صفحه (٧)

شوروي ته دمرستودتنظيم لپاره په واشنگټن کي دنړيوال کنفرانس غوښتنه شويده

واشنگټن : دليندي ٢٢ نيټه :

امريکاوراندېزکړي دي چې دشوروي لپاره دبشري مرستو دکار دبشپړولو له پاره په کاردي چې په راتلونکي مياشت کي په واشنگټن کي يونړي وال کنفرانس جوړشي .

په دغه کنفرانس کي دبرخي اخيستو له پاره پرمخ تللو صنعتي هيوادونو اودمنځني او ختيزي اروپا هيوادونو اودخليج دهگري ملگرو اونړي والو مالي اداروته بلنه ورکړشوي ده .

سپينه ماڼي وائي چې جمهوررئيس بوش دشوروي سره دامريکاني مرستو دکاريو مخيز گولو له پاره دباندنيو چارو دوزيرمرستيال تاکلي دي دوي اعلان کړي دي چې دشل مليونو پونډوپه ارزښت دخاروپوخوراکي موادسمدستي شوروي ته ولېږل شي .

تيم فوتبال ليسه سيدجمال الدين برنده شد

ليسه سيدجمال الدين افغان بخش نهاري خبرميدهد که به تاريخ ٨ قوس سال جاري بين تيم هاي فوتبال بخش نهاري ليسه سيدجمال الدين افغان وليسه انقلاب مسابقه دوستانه درکالج باغ صورت گرفت . مسابقه درفضاي دوستانه سه مقابل صفر به نفع تيم ليسه سيدجمال الدين به پايان رسيد .

اگرمجاهدین ابتکارعمل راخودبه دست بگیرند هیچگونه مجالي براي مداخلات بیگانگان باقي نمي ماند

مسئولیت کنفرانس کشورهاي اسلامي درقبال قضایاي امت

ذبیح الله "قریشي"

ششمین دورکنفرانس کشورهاي اسلامي درشهر"داکار"، مرکز " سنیگال درحالي گشایش یافت که جهان شاهد رویداد هاي عظیمي که افکاربشریت رابخودیکسره معطوف داشته ، میباشد .

باجدایي " اوکراین " ، جغرافیاي اتحاد جماهیرشوروي ازهمپاشید، وآقاي "یلتسن " درصدد اعمار بازارمشترك المنافع بین جمهوریت هاي روسیه شوروي بیرون آمده است و این تصمیم درحالي صورت گرفته که ازیك سو فقر وازسوي دیگر، جنگ خانمانسوز داخلي هرلحظه روسیه شوروي راتهدید به مرگ تدریجي مي نماید . احتمال این خطرراگورباچوف قبل ازاعلان جدایي " اوکراین" ازپیکرروسیه شوروي پیشبیني نموده که ازجانب محافل سیاسي نیز به آن صحه گذاشته شده است .

بعداز شکست روسیه شوروي درمیدان اقتصادي ، نظامي ، سیاسي، وایدیولوژي ، امریکا درصدد ساختارنظام نوین که بتواند جهان را ازقصرسفید اداره ورهبري نماید، به میدان عمل گام نهاده است ، که درتطبیق این آرمان جزي ترین مانع راانمي تواند بپذیرد . زیرا امریکا خودرا حاکم سرنوشت مردم عالم وپولیس جهاني دانسته ، مداخله درامورداخلي کشورهاراحق قانوني خویش مي داند .

ریاست هاي محکوم آسیاي میانه تقریباً بعدازهفت دهه قدراست نموده خواهان آزادي کامل از زیرسلطه روسیه شوروي گردیده است که امریکا ومجامع غربي مخالف این حرکت مي باشند .

درشرق میانه دیالوگ حل مشکل اعراب واسرائیل به ابتکارامریکا بنفع اسرائیل روي دست گرفته شده است .

. علاوه برآن هزاران مشکلي دیگري است که حیات وهویت اسلامي کشورهاي مسلمان رابه خطر انداخته ، مي باید جهان اسلام متحدانه ازطریق کنفرانس کشورهاي اسلامي به حل آن رسیدگي همه جانبه نمایند .

گرچه توقعي که ازکنفرانس کشورهاي اسلامي به نفع جهان اسلام وبشریت میرفت ، بنابردلایل مختلف تاهنوزصورت نه پذیرفته است که به عقیده بعض نظاره گران سیاسي، اعضاي این کنفرانس که آله دست اجانب درسابق قرارگرفته بودند ، ولي باوجود آن هم موجود بتش براي آینده امت ازروزهاي اول ، امیدوارکننده به نظرمي رسد .

درین مرحله حسّاس تاریخ بااین تغیرات ودیگرگونی هایي که درعالم سیاست واجتماع رونماگردیده است، امیدواریم کشورهاي اسلامي بخواب غفلت شان پایان بخشیده ، بتوانند نقش شان رابه حیث اعضاي متحرك وزنده جهان، درحیات جوامع انساني بازي وموجودیت فعال خویش رابارد یگربه خط درشت درجبین تاریخ ترسیم کنند .

مسئله بي افغانستان تهدیدات امریکا ، انگلستان وفرانسه علیه لیبیا تطبیق تمام فیصله نامه هاي شوراي امنیت ملل متحد (!) برعراق باعاده حقوق فلسطینیان آزادي کشمیر وحقوق مسلمانان هند،به رسمیت شناختن ریاست هاي محکوم آسیامیانه وکمك دربخش هاي مختلف بویژه تعلیم ایشان از وظایف عمده دولت هاي اسلامي بشمارآمده که ازطریق کنفرانس کشورهاي اسلامي درجهت حل آن گام هاي مؤثر برداشته شود .

هرگاه جهان اسلام ملت مجاهد افغانستان رادرین لحظات حساسي که جهاد اسلامي آخرین دقایق پیروزي را بردشمن بیرحم مي پیماید تنها بگذارندکه این عمل شاید ملت مارابه دشواري هاي زیاد روبرو بسازدولي ناگفته نماند که زیانش برهمه کشورهاي اسلامي مرتب مي شود .

بنا٬ بهتراست کشورهاي اسلامي براي بقا وقوت جهان اسلام ازتاییدات سیاسي خویش درقبال قضیه افغانستان دریغ نکرده ازمواضع موقف برحق ملت مجاهد افغانستان باکمال جرأتمندي پشتیباني نمایند .

باید اعضاي کنفرانس، به این حقیقت پي برده باشند که امریکا بعداز روسیه شوروي درصدد نابودي جهان اسلام کمربسته که سازش امریکااین حقیقت رادرجنگ خلیج بهتربه محك گذاشت .

کویت را زیرسم ستوران ارتش عراق خورد وخمیرکرد که امروز امریکاازآن بهره برداري مي کند وعراق که تاحدي ازقوت خوب نظامي برخورداربود بدستورشوراي امنیت ملل متحد لگدمالش نموده که تااکنون ضرب شلاق امریکایي ها برفرق ملت عراق خواهدبود .

لیبیارانیزصناعي بزرگ که درآینده قریب به کشور غني زراعتي مبدل خواهد ساخت امریکارابخشم آورده وبه بهانه سقوط هواپیمایش مي خواهد ملت مسلمان وکوچك لیبیا رابه کمك فرانسه وانگلیس ازروي زمین بردارد .

هرگاه بدین منوال غفلت ودوري امت اسلامي ادامه داشته ، ودرهرقضیه بي ازقضایاي امت نقش تماشاچي راداشته باشند به یقین گفته مي توانم که فردا نوبت پاکستان به بهانه داشتن نیروي اتومي وپس فردا ازایران وسودان بوده واین درامه تاپایان امت دنباله خواهد داشت !

باید کنفرانس کشورهاي اسلامي ازحالت خمودجمود بیرون آمده طرق مؤثر وعملي راکه همه کشورهاي اسلامي به آن ملزم باشند درحل قضایاي امت جستجو بدارند .

تباید دیگر مسلمانان فلسطین ، کشمیر، هند، آسیاي میانه فلپین واقلیت هاي مسلمان درنقاط مختلف جهان که آله بازي دردست دشمنان اسلام قراربگیرند .

باید جمهوریت هاي محکوم آسیاي میانه به رسمیت شناخته شده درجهت تعلیم ایشان که هفت دهه ازفرهنگ ناب اسلامي بي بهره مانده ، دورنگهداشته شده بودند ، برنامه عملي طرح ریزي گردیده تاتمام کشورهاي اسلامي حسب توان دربازسازي فرهنگي وسیاسي واقتصادي آنها نقش فعال را بازي نمایند .

همچنان برکشورهاي اسلامي لازمي پنداشته مي شود که اولتر ازهمه منازعات واختلافات خویش را سلمي ازطریق کنفرانس اسلامي حل وپایان بخشیده ازاستعماربپرند .

وبعددرین کنفرانس راه عملي وحدت کشورهاي اسلامي جستجو شده درتبادل خبرات فني ومرضعگیري دربرابراستعمارگران متجاوز، طرق اصولي که ضامن بقاي امت وترقي کشورهاي اسلامي باشد ، ارزیابي گردد تابدین ترتیب درامه ننگین استعمار پایان یابد .

دموقت حکومت دجوړښت هلي ځلي "تاریخي مسئولیت"

قریب الرحمن « سعید »

دوهمه برخه

اوس وګورو چي څنګه کولای شو ددي ټولو طرحو څخه نتیجه ګیري وکړو ځکه ټول په یوه ټکي چي هغه داهل حل وعقدټکي دي سره متحد دي خوداهل حل وعقد دجنجالي ستونزي له پاره تعریف نه شي پیداکولي . دځینو په ذهنونوکي اهل حل وعقد دیوخاص قشر خلك تشکیلوي دځینو په ذهنونوکي بیا اهل حل وعقد دپخوانیو زمامدارانو په شمول پخواني ملکان ، خانان اوپاهغه خلك چي دپخوانیو رژیمونو ترڅنګ پاته شوي او اوس په پوره ارام باخودلته په پاکستان کي او یا په غرب کي شپې اووروځي تیروي،څخه عبارت دي اوځیني بیا دخپلو موربدانو اوکورنیو اخواقدم نه ږدي . داهل حل وعقد موضوع داسي یوه موضوع ده چي دوبرپخوانه پري بحث روان دي . څوځله په دي هکله پریکړي شوي چي که چیري عملي شوي واي ممکن داجنجال اوس نه واي پاته . دافغانستان دټولني ټول سیستم ددي انقلاب په دوران کي تبدیل شوي ، ډیر فقیراوبي وسي خلك نن سترستر قوماندانان دي خوبرعکس ډیر دیرغښ ملکان اوخانان نن هغه مقام اوځای نلري چي درلوده ئي . دي مسئلي دحل له پاره دراولپنډي دمشورتي شوري ترمخه دافغانستان دمجاهدینو داسلامي اتحاد ترنامه لاندي داوه ګونو تنظیمونو دمشرانو په غونډه کي یوځل داسي تصمیم ونیول شوترڅو حل وعقد دتشخیص له پاره څه اصول وټاکي . ددي له پاره ئي وغوښتل چي لمړي باید اهل قوماندانان تشخیص شي . دقوماندانانو له پاره تعریف وشو اوونئي ویل هغه څوك چي ۳۵ کسه مسلح او یا ۱۰۰ کسه غیرمسلح مجاهدین ولري هغه قوماندان دي . په دي کي په اتحاد کي شاملوکوچنیو دلو که څه هم دمسلحو مجاهدینو په شمارلوجنجال جوړکړ خوبالاخره یوڅه پرمختګ وشو .

اماکله چي دي کارعملي بڼه نیوله اونږدي وڅي هیئتونه ټولو ولایاتوته ولاړشي څه تنظیمونو ددي ویري څخه چي هسي نه چي په انتخاباتو کي داخپل پاته حیثیت هم له لاسه ورکړي ددي پروسي څخه مخنیوي وکړ اوکه نه په دي هکله دانتخاباتو کمیسیون ته څوځله هدایت ورکړل شوي ؤ .

دمثال په توګه دهغه وخت دمجاهدینو اسلامي اتحاد چي دانجنیر ګلبدین حکمتیارترریاست لاندي ئي کارکاوه په خپل ۲۸ر٤ر۱۹۸۸ تیته دانتخاباتو کمیسیون ته خپله پریکړه داسي اعلان کړه چي دننه په افغانستان کي دي دولسوالیو اوعلاقداریو په سطحه محلي شوراګاني جوړي شي ترڅو اداري انتظام منځته راشي دانتخاباتو کمیسیون به داکارهم کوي اوپه دي موردکي به راپور داتحاد دعالي شوري غونډي ته وړاندي کوي . دي هیئتونو ترپوڅه اندازه پوري کارپیل کړخو متاسفانه چي دکاردوراندېتوب څخه ئي مخنیوي وشو .

داهغه وخت وه چي موقت حکومت دانجنیر احمدشاه ترمشري لاندي جوړشوي ؤ، په دي وخت کي دموقت انتقالي حکومت له پاره یوه لایحه هم دمشرانو په عالي شوري کي دانجنیر حکمتیار ترنظارت لاندي تصویب شوه چي په کي دانجنیر صاحب حکمتیار، مجددي صیب اوپوهاند سیاف نه علاوه دنورهیئت لاسلیکونه هم شته . دالایحه چي دٌدستورالعمل دولت انتقالي اسلامي مجاهدین افغانستان"په نوم یادیږي په څلورو فصلونو او ۸۷ مادوکي تصویب شوي اوپه فیصله کي لیکل شوي چي " دادستورالعمل د٢٥ دروژي دمباشتي د ١٤،٨ کال چي د١١ ر٥ر١٩٨٨ سره سمون خوري داجراور دي ، ددي ترڅنګ پریکړه شوي وه چي ۲۱ کسیزه موجوده شوري دي دمنتخبي شوري ترتاسیس پوري خپل کارته ادامه ورکړي ".

فکرکوم هغه " دستور العمل " اواوسني دٌقیادي شوري طرح " ترپوڅه اندازي پوري ورته والي ولري، ځکه په هغي دستورالعمل کي راغلي چي " درهبري شوري داوه تنظیمونو دمشرانو څخه (داتحاد اسلامي مجاهدین افغانستان غړي) اوهغه نوروګري چي دهمدي تنظیمونو دمشرانو دراپو په اتفاق وټاکل شي ددي شوري غړیتوب ترلاسه کولای شي ، حکومت ددي شوري دلاندي یوتشکیل دي .

نوکه چیري په هغه وخت کي یعني دري کاله دمخه په همدي دستورالعمل چي دټولو تنظیمونو دهیئتونو لخوا لاسلیك شوي ؤ عمل شوي واي ، نن به داستونزي منځ ته نه راتلي . نه پوهیږو ولي ددي ملت سره دومره ستره جفا کیږي اوهغه څه چي پرون ئي لاسلیك کړي نن ئي بیرته دمستردولو له پاره کوشش کوي .

دراولپنډي دمشورتي شوري په هکله چي دوه دري کسه مشران پري اصرارکوي اوواټي چي باید همغسي یوه شوري جوړه شي ترڅو داموجوده موقت حکومت لغو اوپه ځای ئي بل حکومت جوړکړي ، دلته دا سوال راپیدا کوي چي دراولپنډي شوري ترکومه پوري اهل حل و عقد وه ؟ او بل داچي آیا دراولپنډي دشوري پرته دیوصدارت اوریاست دټینګولو څخه ، هغه هم په پیښورکي . درسوائي اوریشخندپرته نوره کومه میوه ملت ته ورکړي ، ؟ دراولپنډي شوري کي خوداقغانستان ځیني ولایتونه هم ځیني تنظیمونو دنمایندګي څخه بي برخي کړي و خوځینوولسوالیو اوحتي ځیني کورنیو په کي د١٥ څخه ٢٠ پوري نمایندګان درلودل ، ځیني تنظیمونو دخپلو شپیتوکسانو دپوره کولو په خاطر دخپلو بادي ګاردانو لیکرهم دشوري په غونډه کي کښینولي ؤ، دهغي نه علاوه دغرب نه راغوښتل شوي دپخوانیو حکومتو زمامدارانو حتي دراولپنډي په موقت حکومت کي دوزارتونو دمنلو څخه دوه وکړه اوپه بواځي داچي داموقت حکومت ئي عملا ونه مانه بلکه دهغي دسپکولو کوشش ئي وکړ دپلي خوانه که داومتو. چي داحکومت دهغي مشورتي شوري دپریکړو وروسته قانوني شکل نیولي ونودابابد هم په یادولري چي هغه [illegible]

موږ چي هلته ددي حکومت دتشکیل په وخت کي کړي وي هغه هم یوقانوني حیثیت درلود، دمثال په توګه هلته پریکړه شوي وه چي موقت حکومت به دیوي میاشتي په دننه دننه کي دافغانستان په داخل کي آزادي منطقي ته انتقالیږي او هلته به خپل مراکز جوړوي اوفعالوي به ئي، په شپږو میاشتو کي به انتخابات کوي اویا به په دوه میاشتو کي دننه دننه انتخابي شوري راغواړي، که چیري دي منتخب پارلمان دوي ته (دي موقت حکومت) ته دباور راي ورکړه دوي به خپل کارته دوام ورکړي اوکه نه داحکومت به خپل ځای منتخب حکومت ته پریږدي . خومتاسفانه چي دپنډي دمشورتي شوري هیڅ غوښتنه په ځای نه شوه .

په دي اساس ددي موقت حکومت قانوني حیثیت پخپله ختم شوي ددي موقت حکومت دمخه دقیادي شوري ترنظارت لاندي چي کوم موقت حکومت دانجنیر احمدشاه په مشري جوړشوي ویوڅه بنه و، ځکه چي هغوي دانجنیر احمدشاه ترصدارت لاندي دخپلي کابیني په یوه غونډه کي په ١٨ر٤ر١٩٨٨ پریکړه وکړه چي باید دري جلاجلاهیئتونه دري ځایونه ولاړشي ترڅو دموقت حکومت دمرکزي ځای په هکله خپل معلومات کابیني ته وړاندي کړي، هیئتونه په دي توګه ولاړل ، آزري ته دمحمد یاسر په مشري ارګون ته دحاجي مطیع الله "شهید " په مشري اوباجئي ته دمحمداسمعیل صدیقي په مشري،دي هیئتونو سره هرتنظیم دوه دوه کسان هم ملګري ؤ . دازري هیئت چي دمحمد یاسر په مشري تللي و حتي دهغي ځای یوویدیو کست هم له ځانه سره راوړ کاردومره ګړندي روان و، چي که چیري داستعمار ګوډاګیان نه واي مانع شوي نوممکن داجنجالونه اوس ختم واي .

داوسني موقت حکومت صدراعظم هم هلته په ځاځبوکي دخپلي کابیني دغړوله پاره ځایونه جوړکړل پخپله څه موده هلته پاته هم شو، خورئیس جمهور اووزیران په چاوړي واي ! داسوال همداسي پاته شو .

بیا چي کله داټولي وعدي په ځای نه شوي نوکوم جوازوجود لري چي په دي غصب شوي مقام چي ټوله تري ورپوري خاندي، کلك تینګی پاسته ؟ دتیرکال دانتخاباتو پروسه چي په خپله دموقت حکومت لخوا اعلان شوه اوحزب اسلامي چي دهغي څخه جدا خپل ځانګړي کارکاوه هم دخپلو ملاحظاتو سره سره په دي پروسه کي دملت دخیرپه خاطر بوځای شو، ولي دناکامۍ سره مخ شوه . حال داچي ددي پروسي اعلان دحیات آباد په یوه مجللي ماڼي کي ، دستري محکمي په دفترکي ، دموقت حکومت ددولت درئیس او صدراعظم دواړو لخوااعلان شو، په میلیونو میلیونوروپۍ مصرف شوي هیئتونه ولاړل ، دڅه ولایتونو اوولسوالیو نتیجه هم راغله خوبالاخره دپیرصاحب افندي اوحضرت صاحب مجددي په خپلو کي دتریکت دنورو څخه دیوښتني پرته داپروسه ولځندوله چي نتیجه ئي دداکترفاروق اعظم چي دانتخاباتو دکمیسیون دسرپرست حیثیت ئي درلود په استعفا منجرشوه . یوځل داتحاد اسلامي مجاهدین افغانستان دعالي شوري په واسطه داهم تصویب شوي وه چي که چیري اوس عمومي انتخابات په ځینو ځایونوکي مشکل وي نولمړي باید محلي شوري ګاني جوړي شي . په محلي شوري ګانوکي داوه تنظیمونودنمایندګانو نه علاوه دمنطقي علماء اوسپین ګیریوڅخه یوبو کس هم ګډون وکړي اوپه دي ترتیب هغوي په خپلو منځونوکي یوکس منتخب اوشوري ته ئي معرفي کړي ددي انتخاباتو دسهولت له پاره دوه نوري لاري هم مخته کیښول شوي اوهغه داچي په هغه منطقه کي چي ترمخه ځوك دمنطقي دمجاهدینو لخوا ټاکل شوي وي همغه به دانتخاب پرته شوري ته راځي اوکه نه محلي شوري به جوړیږي اوکه محلي شوري نه وي جوړه شوي باید په منطقه کي داسي حالات رامنځته شي چي محلي شوري جوړه اوبیا هغوي یوکس دخپل نماینده په حیث مرکزي شوري ته رامعرفي کړي . ددي کاردسرته رسولو له پاره هم ډیري مادي اومعنوي انرژي مصرف شوي . خلکو پري کاروکړ هیئتونه تیارشول خوکله ئي چي دعملي کیدو مرحله مخته راغله بیا ئي دځینو خپل غرضو خلکو له خوا مخه ونیول شوه اومخالفت ئي وکړ، اوپه همدي ډول خدای خبرڅوځله داپریکړي شوي خودعملي کیدونه ئي بیرته مخنیوي شوي .

راځي دبي ځایه ضداوخپل غرضي په ځای لږ څه حقایقو ته ځیر شو ځکه ټول په دي پوهیږو چي اسلام داهل حل وعقد شوري دحکومت دیومخ بیولو له پاره پیشنهاد وي خواهل وعقد دټاکلو له پاره ئي ټولني ته اختیارورکړي چي په کي دټولني یوه نیك اوپه خلك چي دخلکو دراپو اوفکرنمایندګي وکړي راټول کړل شي . اوس ددي خلکو دراټولیدو لاردانه ده چي فقط دویل شي چي باید داهل حل وعقد شوري دي جوړه شي . ددي دجوړیدو له پاره داسي عملي لارهم باید وړاندي کړل شي ترڅو دهغي لاري داخلك راټول کړل شي . دراولپنډي شوري هیڅ معیارنه شي کیداي اوئه پري حساب کیداي شي اوس نوکه چیري دا پخواني ټولي تصویب شوي لاري دعمل وړنه دي اویاتري نوره ډیره موجوده وي نوښه خوداده چي دهغوي نه تیرشي اودا اوسني وړاندیزونه ترنظر لاندي ونیسي . اوهغه داچي دغیرمتنازع فیه افرادولخوا دمجاهدینو دخپل منځي توافق وروسته یوموقت حکومت جوړکړل شي،او داموقت حکومت ریښتیاهم دیوموقت حکومت بڼه ولري، اوبیا داموقت حکومت په ډیره لږه اومختصره موده کي انتخاباتو ته لارهمواره کړي . انتخابات وکړي اوحکومت منتخب پارلمان ته حواله کړي ، چاچي حکومت کړي، پاڅوك چي ورته کاندیدږي ، څوك چي دیوتنظیم مشروي داټول متنازع فیه دي نباید دانتخاباتو ترمخه په حکومت کي برخه واخلي . ددي له پاره چي دغیرمتنازع خلکو په هکله توافق ترلاسه شي لمړي باید په څه اصولو خپل منځي ژمنه وشي، چي غیرمتنازع خلك باید څه خصوصیات ولري . پس له هغي نه دغیرمتنازع خلکو لستونه تهیه اوبیا دهغوي څخه افراد راټول شي .

دداسي یوموقت حکومت چي په هغي کي دتنظیمونو مشران برخه ونلري منځته راتګ یو اشدضرورت دي، که زموږ دراولپنډي دموقت حکومت مشران دخپلو ژمنو اوتړونونو برخلاف نن دخپلي بي واکه چوکۍ اوبي واکه مقام دساتلو په غرض کله داوقافو دوزارت پوري اوکله بیادخپلو تنظیمونو پوري تړلي علماراټولوي اوفتوي پري ورکوي چي همدا حکومت دي تقویه شي اوددي له منځه ولو ... نوسبابه په افغانستان کي څنګه څوك ددامي یومقام څخه چي غصب کړي ئي وي تري لري کړل شي اوهلته چي بیا روس اوامریکائي داسلامي تنظیمونو په خلاف هم ملاورکلکوي .

علمایاید فکروکړي چي دپنډي دشوري ژمني ولي نه عملي کیږي، بل داچي دي موقت حکومت کوم شرعي داسي کاروئه (پرته له دي چي جهاد ته ئي صدمه رسولي وي) کړي چي خپل شرعي اوحقوقي حیثیت وساتي . همدا رازعلماء باید په دي هم فکر وکړي چي داسي موقت حکومت چي صدراعظم اورئیس دولت ئي یودبل په خلاف په مختلفو لارو روان وي په دي حساس وخت کي دملت له پاره څه ګټه رسولي شي ! دبي ځایه فتوي ورکولو اودملت په جنجالونو کي دزیاتولو په ځای باید داجتهاد نه کارواخستل شي په دي فکر وشي چي که ددي موقت نظام افرادو ته توانیدلي چي یومثبت کارهم وکړي نوباید ددوي په خلاف لاس پوري کړي نه داچي ددوي دملاتړلو له پاره فتوي ورکړي .

علماباید خپل مقام اوحیثیت وساتي اودحکومتي ولګي په ځای دخدای ولګي وګرزي دستونزو دزیاتوالي په ځای دستونزو په حل کي مرسته وکړي .

اوهغه خلك چي دخپلو وعدو په نسبت بي تفاوته دي هغوي دي لوري ته متوجه کړي اودخدای دعذاب ئي ووېروي .

نه پوهیږم چي داوقافو دوزارت علماء په دتیري هفتي یعني ددسمبر دڅلورمي نیټي دجهادي مشرانو دغونډي دتعهداتواوتړونونو دماتوونکي افرادو په هکله څه حکم کړي هلته په مجددي صاحب اونورو چاداتوره اینښي وه چي دالامضا کړه اوکه نه ... که مجددي صاحب حتما دهغي مخالفت کاوه باید همغلته ئي کړي وي .. نه داچي دخپل امضاء یوه ورځ وروسته داروپا په کانفرانس کي دااعلان کوي چي که څه هم ماامضاء کړي خو تائید وم ئي نه . ولي ! په دي یوه ورځ کي کوم داسي سترخوب

(۷)مخ

داسلامي هیوادونو سرتولنه اودکامیابي رازیي

خلیل

په سنیګال کي داسلامي هیوادونو شپږمه سرتولنه پیل شویده ، لدي نه مخکي پنځه نوري سرتولني هم په مختلفو اسلامي هیوادونوکي منعقدي شوي، که څه هم تراوسه پوري که څیښو معمولي نتائجونه پرته بنیادي اغیزه پوري بریالیتوبونه ندي ترلاسه کړي شوي خو بیا هم داسي سرتولني داسلامي امت دبیداري په لوریومثبت اوښیك قدم ګڼلي شو .

پدي کي هیڅ شك نشته چي ټول مسلمانان دیوجسد غړي دي اوالله پاك ورته دیوامت خطاب کړیدي . کافران هم ټول مسلمانان یوه شانته خپل دښمنان ګڼي اوددوي په خلاف بي دتل لپاره ګډسنګراو یودریځ نیولي دي، دتاریخ له پیل نه تراوسه پوري داسي وخت هیڅ څوك نشي ښودلي چي کافرانومسلمانانوته دامن اودوستي لاس ورکړي وي بلکي دهمیشه لپاره بي ورسره دښمني کړیدي که پرتېني تاریخ هم لرغوندي نظرواچوونو داحقیقت لکه لمرڅرګندیږي چي ټول کفري هیوادونه اوس هم مسلمانانوسره کلکه دښمني لري اونه غواړي چي مسلمانان پخپلو پښو ودریږي . دمثال په توګه دپاکستان اتومي بټي چي دبرقي ضروریاتواوځینو نوروشیانو دپوره کولو لپاره جوړه شویده دامریکااوټولو کفري هیوادونوپه سترګو کي اغزي دکاوروته اسلامي بم واټي ، حال داچي په همدي سیمه کي چین هندوستان اوپه منځني ختیځ کي اسرائیل نه یواځي داچي ځوځوابعمي بټي لري بلکي په زیات شمیرکي اتوم بمونه هم لري خودکفري هیوادونو اسلام دښمني ته وګوري چي دپاکستان پرامن اتومي پروګرام په خلاف بي ټوله دنیا په سرآخستي چي دادسیسي دامن لپاره خطرناك دي خودهندوستان . اسرائیلو اوچین اتوم بمونه ورته بالکل په نظرنه راځي .

همداشان دفلسطین ، افغانستان کشمیر اوپه روس کي پراته اسلامي هیوادونو په باب له نفرت اوکرکي نه ډکه پالیسي هرچانه ښکاره ده ، ددي لپاره چي مسلمانان په خپلو پښو ودریږي اودکافرو له غلامي اومحتاجي نه نجات بیاموسي ددي خبري دیرزیات ضرورت لیدل کیږي چي مسلمان دي پدي لرکي په پوره اخلاص عملي ګامونه پورته کړي ځکه چي یواځي دکانفرانسونو اوقرار دادونو په پاس کولو یوه مسئله هم نشي حل کیداي . که مسلمان هیوادونه ریښتیا پخپلو پښو ودریدل اودکافرو له محتاجي نه خلاصون غواړي نوپرته دڅه شك نه دوي، هرڅه کولي شي اوپه ډیرلږوخت کي حیرانوونکي بریالیتوبونه ترلاسه کولي شي، داځکه چي دوي دداسي کولو بشپړاهلیت اوتوان لري . دالله په فضل اوکرم مسلمانان دنفوسو په لحاظ هم ډیرزیات مضبوط دي اودوسائلو په لحاظ هم له هرچانه غنیان دي که چیري دوي په صحیح توګه خپل قوت اووسائل استعمال کړي نوپرته دڅه شك نه به په ډیرلږوخت کي خپل باپللي شان اوشوکت لاس ته راوړي .

پدي وخت کي دعربي هیوادونو ډیري زیاتي پیسي دامریکا اواروپا په بانکونوکي پرتي دي او ټوله ګټه ئي همغوي ته رسیږي . که چیري دوي پدي پیسو پخپلو هیوادونو یانورو اسلامي هیوادونوکي کارخانې جوړي کړي نوخپلو هیوادونوته هم اوترقي کوونکو اسلامي هیوادونوته هم زیاته ګټه رسیږي .

ډیرداسي اسلامي هیوادونه شته چي په ساینسي دګرکي دډیرڅه کولو صلاحیت اوتوان لري لیکن دسرمایي دنشتوالي له کبله لاس ترزني غلي ناست دي ، که چیري ټول اسلامي هیوادونه خپل وسائل اودماغونه یودبل دګټي لپاره په کارواچوي نوددي خبري قوي امکان دي چي مسلمانان به ډیرژر په ساینسي او پوځي دګرکي پخپلو پښو ودریږي . پدي کي هیڅ شك نشته چي دیوقوم بقادهغه پوځي قوت پوري منحصره ده اوداتاریخ فیصله ده چي کمزورقومونه پاخوهمیشه دبل چالپاره لونده توري ثابت شویدي اویادذلت اوخوارۍ ژوندئي تیرکړیدي .

اسلام په عسکري میدان کي دزیات قوت اومهارت ترلاسه کولو لپاره زور اچولي دي لکه چي الله پاك فرمائي : ترجمه ، اوداللـه (جل جلاله) په لاره کي دجنګي سامان په تیارولو کي چي تاسوڅومره خرڅ کوي ددي بدله پوره پوره رسیږي اوستاسوحق نشي ضائع کولي . الانفال-٦٠ ، داآیت شریف ټول مسلمانان تنبیه کوي چي مسلمانان دي همیشه لپاره تیارسي اودجنګ په حالت کي واوسیږي که نه دغفلت اوبي خبري په وجه به ددښمن دحملو دفاع ونشي کړي ، دمصرفاتح حضرت عمررضي الله عنه مسلمانانو ته حکم کړي ؤ چي تاسو همیشه پهره داریاست . حال داچي مصرټول فتح شوي ؤ اودمسلمانانو لپاره هیڅ ډول خطرات نه وو لیکن بیاهم حضرت عمررضي الله عنه خپل مسلمان پوځ ته دجنګ لپاره دتیارسي حکم ورکړی ؤ . تاریخ ګواه دي چي مسلمانانو ته زیات نقصانونه په عسکري میدان کي دغفلت په وجه رسیدلي دي . نن سبادودنیا پرنقشه له ټولوزیاتو زیات اسلامي هیوادونه دي دوګړو شمیر ئي له یوملیارد نه زیات دي، لیکن له بده مرغه ټول په عسکري میدان کي کمزوري اودوسلو په برخه کي دبل چالاس ته محتاج دي . ددي لپاره چي اسلامي هیوادونه یوځلي بیا خپل شان وشوکت ترلاسه کړي نوداسلامي هیوادونو مشرانو، عالمانوپوهانو اوساینس دانانو ته پکاردي چي له هرڅه نه مخکي پخپلو کي یوبل ته دوروري همدردي اویووالي لاسونه ورکړي اوخپل ځانونه دیوامت غړي ثابت کړي خپل غم درد اوخوشحالي یوه کړي، لدي نه آخوا بیا په اسلامي هیوادونو کي په ګډه دمختلفو مصنوعاتو اوجنګي افزارډتیارولو لپاره کارخاني جوړي کړي، ټول اسلامي هیوادونه دي دیوګډ تجارتي منډ بي انتظام وکړي چي دهغه په وجه ، دټولو ضرورتونه پخپلوکي پوره شي اوسرمایه نوروکفري هیوادونوته لانږشي صنعت اوحرفت ته دودي ورکولوپه خاطر خپل ټول خام مال یوبل سره تبادله کړي .

په کوم هیوادکي چي فني اوتکنیکي ماهرین [illegible] هغوي دي دنوروااسلامي هیوادونوسره په زړه پوري مرسته وکړي، همداشان مالدارهیوادونه دي دصنعتونو دترقي لپاره سرمایه برابره کړي، پدي ډول مسلمانانوته ډیري زیاتي ګټي په لاس راځي . چي څوګټي بي دادي : لومړی : په اسلامي هیوادونوکي ساینسي اوصنعتي تعلیم زیاتیږي چي په نتیجه کي یوه عامه بیداري پیداکیږي اودعلمي تحقیقاتو اواختراع لپاره لاره اواریږي چي په کراره کراره دپرمخ تللیو هیوادونوپه کتارکي دشاملیدو وړګرځي .

دوهم : مسلمان هیوادونه پخپلو ضروریاتوکي خودکفیل کیږي اوپدي ډول دپرمخ تللیو هیوادونو له محتاجي نه نجات ترلاسه کولي شي .

دریم : په مسلمانانو هیوادونو کي اعتماد اوحوصله پیداکیږي چي دقومي بقاوتحفظ لپاره ډیرضروري شیان دي .

څلورم : له مسلمانوهیوادونوڅخه جهالت اوبي کاري ختمیږي .

پنځم : په مسلمانانو هیوادونو کي دواقعي اتحاد یوبنیادي ډیره ایښودل کیږي اویودبل ورونه اومرستندوی ګرځي .

لدي پرته نورهم ډیري زیاتي ګټي دي چي دټولو یادونه دمضمون داوږدوالي باعث ګرځي . خوبه هرحال که چیري اسلامي هیوادونه دزړه له کومي اوله اخلاص نه دا قدمونه پورته کړي انشاء الله تعالی دمسلمانانو راتلونکي بالکل دڅاوړو اوروښانه ده . همي په تشو کانفرانسونو اوتقریرونوددین اودمسلمانانو دغلبي خوب کله هم نشي پوره کیداي . ښکاره خبره ده چي دبل چامحتاج اودګدای کاسه ګرځوونکي قوم کله هم دعزت اودغلبي ژوند نشي تیرولي . مسلمانانو هیوادونوته الله پاك دومره زیات وسائل اودومره غوره جغرافیایي جوړښت ورښلي دي چي که چیري دوي ریښتیا لدي نه ګټه پورته کړي اوټول مسلمانان یوآوازاویولاس شي نوبیشکه دنیاوي اواخروي کامیابي به ددوي مقدرشي .

دنړیوالو ستونزو په هکله دابرځواکونودوه مخي

درحماني ژباړه

" دجنګ ورځپاڼي ۱۹۹۱ ددسمبرپه پنځمه نېټه په خپله په جمعه ئي مجله کي د" نړيوال سياست لوبول ... ډاګيزه دوګه " ترعنوان لاندي د" منذرالهي " يوه مقاله چي دامريکا او ،وبرځواکونو ددوه مخي په هکله ليکل شوي خپره کړېده ځرنګه چي دغه مقاله دامريکا دشيطاني سياست نه ترجماني کوي نوموړې ،شهادت دلوستونکو لپاره په پښتوژبه نشرته سپارو " .

دنوي نړيوال نظام په حق کي يودادليل هم دي چي " دټولي نړي اوسيدونکي اوس خپل مسحي سياسي اوايډيولوژيکي اختلافات له منځه وړي ، يواويل ته نږدي کيږي ... دنړي ملتونه داخلي جګړي ختموي اودېوي کورني په شکل ژوند اختياروي .. واټن اوفاصلي له منځه ځي، ورورولي ، محبت اوسوله پياوړي کيږي اوټوله نړي له څوکي نه ديوبنګلي نړيوال کلي شکل غوره کوي "

آياواقعي هم داسي ده .. بنايي نه !

دنړيوال نظام لوبغاړي ديوي ډاګيزي دوکي هڅه کوي . نوي نړيوال نظام دي .. اوکه ملګري ملتونه ... جهاني بانک دي ... اوکه نړيوال وجهي صندوق ... لنډه داچي دي ته ورته اکثر اداري اوموسسي دانساني تاريخ ديوه بدشکل دومخي ښکاردي .

پراتومي پروګرام باندي اعتراض ګوونکي پخپله داتومي وسلي انبارونه جوړوي .

پرنژادپرستي باندي ګوزارکوونکي خپلي فيصلي درنګ او نژادپراساس کوي

مذهبي بنيادپرستي کله دوستي په دښمني بدلوي خوکله بيا ... !

دنړي په يوګوټ کي بيلتون غوښتونکي ، خپلواکي غوښتونکي بلل کيږي خوپه بل ګوټ کي همدغه خلکوته بنيادويره اچوونکي لقب ورکول کيږي .

آخرددي منافقت لامل څه دي ؟

آيامحض دغريب اوسرمايدار يادزور رراوکمزوري فرق ...

بقينا همداسي ده ...

ددنيا دلوياتولپاره يوډول اصول دي اودغريبانو لپاره بل شانته همداوجه ده چي نن دنړي پرمشرتابه اوسيادت باندي يوازي څوهيوادونو خپته اچولي ده .

" ترلاس لاندي " ملتونو لپاره دپرمختګ په ميدان کي ځاي نشته ...

آياپه ټوله دنياکي داسي يوه معامله اوياستله نشته چي دهغي په هکله لويو ځواکونو ديرابري اوڼه توپيرپرښت نړيوال چلندته وده ورکړي وي ...؟ نه هيڅکله نه ...

دغه ابرځواکونه پرته له دي چي کوم اخلاقي ياقانوني اصول په پام کي ونيسي هره ستونزه ، دخپلوګټو په نظرکي نيولو سره حل کوي . اودخپلي هيلي دټيلولپاره هرډول فشاراووسيلي کاروي .

داځومره خنداوړه خبره ده چي امريکا، اروپا اودپرمختللي نړي هرهيوادهره اداره دعوه کوي چي ددوي معيارفقط اهليت دي ، نه چي مذهب ، رنګ ، نژاداوجنس ... پداسي حال کي چي عملي وضعه کاملا دهغه برعکس اوډيره دردوونکي ده . په امريکا اواروپاکي آسيايي اومسلمانو خلکوته په دي خاطردپرمختګ موقع نه ورکول کيږي چي پاخودالرتوردي او يا ددوي په اصطلاح" مذهبي ليوني .

له پاکستان نه يي پيل کړي ... چي اتومي پروګرام يي دټولي نړي په سترګو کي اغزي دي ... يوداسي اتومي پروګرام چي اساسا دانرژي دکمبودد پوره کولو اودسوله ايزواهداقولپاره پيل شوي ... خوديو ابرځواك پراعصاب باندي د" اسلامي بم " په څير سپوردي ... !

دپاکستان پخواني حکومت په څوځله په نړيواله سحه دااعلان کړي چي زموږ اتومي پروګرام يوازي دانرژي دپوره کولو اودسوله ايزوپروګرامونو لپاره دي ... اوداوسني حکومت خوددي دستګاو دمعاينې لپاره هم تياري ښودلي ... له دي نه لرڅوهم مخکي تللي دوسلي دلړولو پرمعاهده باندي د لاسليك لپاره هم راضي دي ... آيادغه ټول پيشنهادونه دسيمي ترټولو لوي هيوادهند ته هم پکاردي چي ۱۷ کال وړاندي اتومي ځواك جوړشوي ... آيا داخبر پرديکاردموجوده نه ده چي دهندپراتومي چاودني باندي داعتراض په ځاي پاکستان په پرله پسې ټول دنړيوال ضميرپه وينبولوکي کامياب نه دي ... يوازي په دي خاطر چي د" نړي لوياتو" دهند اوپاکستان لپاره جلاجلا اصول اوقاعدي وضع کړي ... اوترټولوځه مثال بي دادي چي، هندي حکومت دپاکستان له پيشنهاد سره اتفاق نه لري ، خوله دي سره سره پرپاکستان باندي اقتصادي اوپوځي مرستي ترل شوېدي .

که له نن څخه پوره شل کاله پېرته لاړشو، نودبنګله ديش جوړېدو نه مخکي چي مکتي باهني " څه قيامت جوړکړي و او دهند حکومت چي له هغو دهشت اچوونکو سره څومره مرسته کوله ... خودابرځواکونو په غوږونو کي له پاکستان څخه دهغي جلاکيدو هيڅ ونه شرنګول اوڅه تاثير يي پري ونه کړ، بلکي دبنګله ديش رامېنځته کېدو ته يي به راغلاست ووايه . نه پوهېږچي دکوم اخلاقي ياقانوني اصل له مخي يي ددي " سانحي " حتمي رامېنځه کېدل ضروري وبلل ... آيا داضروري ده چي دنړي هرغريب هيواددي خپله لاېره دډوکي ستونزه هم دلويوطاقتونوپه خوښه حل کړي ؟

همدي ته ورته امريکا ترهغوپوري دافغاني مجاهدينو سره مرسته کوله ترڅوچي روس يي په افغانستان کي مغلوب ولید ... اوکله چي دروس ماتي پيل شوه نوامريکا هم په دي خاطرپرمجاهدينومرسته بنده کړه چي په افغانستان کي اسلامي حکومت جوړنشي

پاکستان چي دخپل توان مطابق له افغاني مجاهدينو سره څومره مرسته وکړه ... امريکا پرهغي څه اعتراض ونه کړو ... خوبل طرف ته له کشميري مجاهدينو سره دپاکستان دعوامو اخلاقي مرسته هم دامريکا خوښه نه ده په پاکستان کي دامريکا نوي سفيرپخپل شکل په دي هکله ګوابښ هم ورکړيدي .

دکشمير په ستونزه باندي دابرځواك يي حسي څه چي منافقت ښکي حيرانوونکي دي ، له يوي خوا امريکا دملګروملتونوپرهغوقراردادونو عمل يقيني کوي چي عراق ته دجزاورکولو په منظورتصويب شوي، ولي بل پلوته يي دملګروملتونوځکلن زاړه پريکړه ليکونه له پامه غورځولي دي په روسيه کي هم هغه جمهوريتونه دامريکا اوانهيوالانو له خوايي ژرترژره په رسميت وپيژندل شول چي عيسايي و ... ولي دمنځني آسيا مسلمان جمهوريتونه چي دګورباچوف له خوايه شدت سره وځپل شول اوګن شميرخلك پکي قتل عام شول، نو امريکا، بريتانيا اودټولي پرمختللي نړي هيڅ هيوادپري احتجاج ونه کړ .

امريکادايران - عراق په جګړه کي له عراقيانو سره دملبونو ډالرو وسلي مرسته وکړه ، ولي بيا دخليج په ستونزه کي پرعراق باندي داقتصادي بنديزونو دعملي کولولپاره امريکاپرڅان شپه ورځ يوه کړي ده .

... آيا کله يي هم داسي هلي ځلي په جنوبي افريقاکي دتوربوستکو دحقوقو داعادي لپاره کړيدي ؟

همداډول دامريکا حکومت کله هم داسرائيلو پراتومي ځواك جوړېدو اعتراض نه دي کړي اونه يي ترنن پوري له اسرائيلو نه داغوښتنه کړي چي دوسلي دلړولو په معاهده دي لاسليك وکړي ... داځومره دخنداوړده چي پاکستان ته يي همدا اتومي پروګرام پلمه کړي اوهرډول مرستي يي پري درولي دي . خو داسرائيلو په شان له متنازعه اواتومي ځواك درلودونکي حکومت سره بيا هم هرډول نظامي اواقتصادي مرستي کيږي .

که اسرائيل دغزي په ترانګه اولويديزه غاړه کي کورونه اوکلي جوړوي خيردي ، ولي دکلونوکلونودرپه دره فلسطينيانو لپاره چي هيڅ ځاي نشته څوك يي پروانه لري ... له روسيي نه يهوديان راځي په منځني ختيځ کي ميشت کيږي ، ولي دفلسطيني هيوادو دجوړېدو لپاره لومړي دعربو له خوا داسرائيلو په رسميت پيژندل ضروري ښکاري ....

له عراق سره دجنګ لپاره په زرونوټنه وسله فورا سعودي ته رسيدلاي شي، خودواکي دسقوط په وخت کي هغه يېړي تراوسه پاکستان ته نه ده رارسيدلي چي دبنګال په خليج کي په وسله باروراوانه وه ...!

بريتانيا دايرليند بيلتون غوښتونکي دهشت اچوونکي بولي خوسکان خپلواکي غوښتونکي .. همدي ته ورته دمنځني آسيا اريتريا، فلسطين اوکشميري مسلمانان تراوسه ددوي په نظردهشت اچوونکي دي . نه پوهيږو چي دنړيوالي درورولي کوم قانون باضابطه په هغوي ته دخپلواکي غوښتني ستدورکړي ..؟

فلهذا که دي هرڅه ته ګورو نونړيوال سياست په اصل کي دتضادانو مجموعه ده ... خوپوښتنه داده چي داولي ... ددي مسئول څوك دي ؟ ابرځواك مسئول دي که لويديزه نړي ! بنايي هغوي نه وي ... اصل مسئول موږخپله يو ... بلي موږخپله ...

دپرمختلونکو هيوادوداقتصادي بدحالي اودسياسي استحکام دنشتوالي مهم لامل په هماغو هيوادوکي طبقاتي استحصال ، دافرادي قوت غلط استعمال، اجتماعي بيلتون اوعدم تحفظ ، بي سوادي، اودوسايلو بي ځايه ضايع کول دي له همدي امله اکثرهيوادونه له لسيزو لسيزو خپلواکي سره سره داروپا اوامريکا لاس کتوي دي . په دي حالت کي به څه ډول اميدوشي چي پورورکوونکي هيوادونه دي پرموږخپل شرايط ونه مني .

ترټولوضروري داده چي په لومړي مرحله کي پرمختلونکي هيوادونه جهالت اوبي سوادي ورکه کړي، دوسايلو دضياع مخه ونيسي ، دا ډېرلوي ګام دي، که واقعا دريه نړي خپل طبعي شته دافرادي قوت په واسطه ترلاسه کړي نو سياسي استحکام هم منځته راځي اوپراقتصادي لحاظ په پښودريدنه هم . همداهغه لاره چي غريب هيوادونه پري خپله آزادي ترلاسه کولای شي .

امروزجوامع اسلامي که تحت ظلم وستم استعمارګران قراردارند ودرذلت وخواري بسرميبرند فقط بدليل آنست که ازنظرفکري وعملي مقلد غرب شده واز اسلام ناب وآزاديبخش فاصله ګرفته اند

باتأسف بعضي ازهموطنان مانيز درين ګرداب ذلت غرق ګشته اند مخصوصا يکعده از خواهران که تحت تأثير تبليغات غرب رفته وازپوشيدن لباس شرعي اباميورزند .

درحاليکه حجاب اسلامي مانع تمدن وپيشرفت نبوده وبطوراخص مايه شرف و عزت زن است ، و بي حجابي عامل آفت وتباهي اجتماع وبروزفساد اخلاقي ميباشد .

لله الحمد ماخواهران پاك ومتعهدي داريم که نه تنها باداشتن انديشه اسلامي شان افتخارميکنند بلکه ازمرحله دفاع به مرحله پيروزي رسيده اند واينك دوشيزه ګان اسلام درسرزمين هاي اسلامي ، داستان قهرماني هاي تازه ئي رارقم مي زنند .

زنان مسلمان افغان علي الرغم آنکه مظلوم ترازمردان بوده ودرسايه رژيم هاي الحادي هيچ مرجعي براي فراګيري علوم اسلامي نداشتند ، درساليان دراز جهاد ايثارګر ي هاي نمودند . اګر مردان مجاهدوقهرمان افغانستان درسنګرهاي حق عليه باطل دشمنان اسلام رادسته ، دسته به جهنم فرستادند . زنان مسلمان افغان نيز درين ساحه عقب نماندند وباکمال شجاعت ودليري دربرابر جنايتکاران وحشي صفت ودون همت چون سيل خروشاني جنګيده اند واين خواهران ومادران مسلمان بالتحمل صدها رنج وزحمت زندګي درزير خيمه هاي سوزان محيط هجرت رانسبت به زندګي اسارت باردرزيرسلطه کفرترجيح داده اند بايد دانست که مقام وزينت زن درعفت وپاکدامني اش نهفته است وسيرت وي نظريه صورتش صددرصد ارجحيت دارد .

ازنظردشمنان اسلام ، حجاب وزندګي آبرومندانه ، قيد وزنداني بيش نيست درحاليکه به ارتباط ګفته هاي بالاياپوشش اسلامي عفت زن حفظ ګرديده ووقارش ارتقا ميبابد .

درسال ۱۹۷۱ ميلادي دردانشګاه قاهره ازجمله يکصدوبيست هزاردانشجو يکه درس مي خواند ، تنهايك دخترلباس شرعي مي پوشيد امااينك بعدازچندسال مايه شګفتي هاي درآن دانشګاه برمي خوريم ، زيرا دختران دانشجويي که فعلا درآن دانشګاه لباس شرعي به تن مينمايند ازپانزده هزارمتجاوز بوده ودرميان شان بسياري صورت هاي خود راهم مي پوشانند . هم چنان باهمچو پديده اي دردانشګاه اسکندريه وګودانشګاه اسيوط وساير دانشګاه هاي جهان اسلام نيز روبرومي شويم .

ولي به ارتباط سخنان قبلي بايد ګفت که بعضي ازخواهران درمحيط هجرت حجاب اسلامي را مراعات نکرده وحتي به آرايش وعريان کردن دستهاتابه آرنج مبادرت مي ورزند که اين عمل شان نه تنها خلاف دساتير اسلاميست بلکه باعث ازبين بردن حيثيت و آبروي تمام مهاجرين ومجاهدين راه حق که افتخار جهان اسلام اندوتماما مسلمانان کره ارض به اين بزرګ مردان چشم اميد دوخته اند ، ميګردد .

بناء بايست درين جامعه پرازجهل وفساد هويت اصلي خودرا ازدست نداده ونبايد درشرايط ګوناګون چون مايعات شکل هرظرف را اختيارکنيم ، وبايد چنان عناصرمحکم واستواري باشيم که مشکلات جامعه ودعوت رابه دوش خودحمل نمايم وبايد منحيث يك فرد مسلمان چنان متانت رادارباشيم که فشارهاي اجتماعي مارابه هرسو نکشاند ودربرابر خواهشات آن تسليم نګرديم . اسلام بادرنظرداشت فطرت وطبيعت زنان حقوق مکمل برايشان اعطاکرده، وتنها زن مسلمان مزين به زيور اخلاق ، علم ودانش اسلامي باآګاهي فکري وانقلابي مي تواند درايجاد وطن محبوب نقش مهم وقابل قدري راايفاکنند .



براردمجاهدامرالله حميدبار اندرابي ازکمپ نمبر۲ اکوره خټك :

ازحسن نظر تان نسبت به کارکنان روزنامه شهادت ممنونيم نشرمطالب مربوط به مسايل مختلف فقهي ازطريق روزنامه شهادت هميشه مورد نظر مابوده وخواهدبودازپيشنهاد ارزنده تان سپاسګذاريم . مؤيد باشيد .

(اداره)

###

برادرمحترم محمدعابد نصرتيار متعلم صنف دوازدهم مدرسه امام اعظم (رح) !

مطلب ارسالي تانراتحت عنوان پيروزي نظام رحمن وشکست نظام شيطان که ذکراجمالي شاخه هاي فلسفه هيګل و فروعات آن بود مطالعه نموديم . نحوه ذکرمطالب بشکل يك نماي ګرافيك صورت ګرفته بود که اګرباترسيم ګراف همراه مي بود مي توانست به خوانندګان جالب وقابل فهم باشد .

تذکر اين مطالب بدون بخش بندي منظم تشريحي ګنګ وغيرقابل فهم خواهد بود به همين جهت ازنشرآن مارامعذورداريد . موفق باشيد

(اداره) .

####

برادرمحترم عبدالواحد ګلزادوعبدالرب فيصل محصلين صنف سوم معهد شرعي حضرت عمرفاروق (رض) !

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته !

درمورد اينکه بعدازپيروزي نحوه برخورد مسئولين انقلاب اسلامي افغانستان بامسئله مکروريان هاوساکتين آن چه خواهد بود ضرورت به صدورفرامين تقنيني ازجانب مقامات باصلاحيت درفرداي پيروزي انقلاب اسلامي دربن زمينه است .

اماعجالتا تذکر چندنکته را درين باره لازمي مي دانيم اولا اينکه صرف سکونت درمکروريان هاعمل جرمي نبوده مګراينکه باکوايف ضداسلامي توأم باشد و ثانيا اينکه مکروريان هابشکل فعلي آن مي تواند براي مکاتب ، مدارس، ليليه ها ، دوايرودازين قبيل قابل استفاده باشدوياآوردن بعضي تغيرات در شکل وديزاين آن مي شود به مقاصد مختلف قابل استفاده ګردد .

دوراندېشي وآينده نګري شما بشرط آنکه باهدفمندي توأم باشد اميدوارکننده است باميد پيروزي انقلاب اسلامي افغانستان (اداره)

#####

محترم ورورعبدالقدير جهادوال صاحب ! الوطلام عليکم ورحمة الله

ستاسو ليك راورسيد، ازداواوهم درکوو، چي په دفترکي هم هماغه کسان لاشته ، چي دشهيداستادخپرك ترڅنګ يي دشهيد نادرخان ترقوماندي لاندي داسلامي انقلاب بيرغ پرکامي اوګوښتي ډېولي دي . وروره ! په ليك کي دي دشهيد استاد دشهادت کال، ورځ او نيټه پېجلي . خوبيا هم ستاسي دااطمينان لپاره ستاسو ليك کټ مټ خپروو .

" دشهيد استادسيدمحمد محمود خپرك دشهادت لسمه کليزه "

زموږ مقدس اسلام داسي يومکتب دي چي هرچانه ددي زده کړه وربه برخه شي ترهروخت اوترابده به ئي دتاريخ ويړه روښانه وي اودواړو جهانونو سعادت به ئي په برخه وي .

زموږاسلامي انقلاب چي دپيل څخه ترنن پوري دزياتو بامخلصه اوايماندارو مجاهدينو اوقهرمانو ځوانانو په واسطه روښانه دي اوټول په اسلام مين مسلمانان ورته لبيك وائي اوځيني قهرمانانو پکي خپل سرونه قربان اوځانونه شهيدان کړل .

دغه شهيدانو له ډلي څخه يوهن شهيد استاد خپرك هم دي چي په ۱۳۲۹ کال دننګرهار ولايت دکامي دولسوالي دګوښته والو په يوه ديندار کورني کي نېږيدلي .

لومړني دمرادعلي دليسي څخه په اعلي درجه فارغ او بيا دپوهنې په سمت مقررشو، چي زيات شاګردان يي اسلام ته دعوت اوددغري حکومت ناوړه اوشوم پلانونه ورپه ګوته کړل .

پلاخره کله چي دکامي ولسوالي دجهادي تشکيلي جبهي قوماندان احمدهجرت وټاکل شو نواستاد خپرك ئي دمعاون په حيث مقرر شو . کله چي احمد هجرت مرخورده لاړ مولوي خداي دوست دکامي عمومي امر او استاد خپرك دګوښتي دولسوالي قوماندان وټاکل شو .

کله چي مولوي خداي دوست دشهادت جام نوش کړ ، وروسته استاد خپرك دکامي ولسوالي دعمومي قوماندان په حيث معرفي شو .

استاد خپرك څه موده وروسته دکامي ولسوالي کي په يوه پوسته عمليات وکړل چي ... دحوږيو پوستي په نامه يادېده زيات ملحدين يي مړه او وروسته ئي پوسته تخريب کړه چي په نتيجه کي ئي استاد خپرك دشهادت لوړمقام ته ورسېد اويبا ئي دهغه جنازه پاکستان ته راوړه . روح دي ښاد وي .

چهره حقيقى سودان

ترجمه از اثير

از لحاظ سياسي

کشورمسلمان وعربي سودان باداشتن اراضي وسيع زراعتي وآب فراوان درياي نيل وموسم هاي باراني ازکشور هاي ديګرمنطقه متمايز ميګردد . ممکن سودان زماني منبع غذايي کشور هاي عربي ګردد به اين معناکه کشورهاي عربي مي توانند از لحاظ مواد غذايي به امکانات زراعتي سودان اکتفاکنند .

همين اکنون درسودان درحدود دوملبون جريب زمين لامزارع آماده کشت وجود دارد وقرارمحاسبه بعضي ازمسئولين براي مدت ده سال ، سالانه به مبلغ ده مليارد دالر ضرورت است تا کشور سودان نه تنهامخزن غذايي جهان عرب حتي جهان اسلام ګردد . حالانکه فعلاً بيشتراز ۶۰٪ موادغذايي سودان ازخارج واردمي ګردد کشوري که منبع غذايي اش را در اختيارندارد درواقع کرامت واستقلالش را دراختيارندارد.

به ارشاد آيه کريمه " ولن ترضي عنك اليهود والاانصاري حتي تتبع ملتهم " رجوع مي نمايم.

تا وقتيکه يهود وانصاري صاحب شان وشوکت اند وحل وفصل قضاياي بين المللي دراختيارآنهاست . سودان وهرکشوراسلامي ديګربخود کفاي نايل نخواهندآمد، بلکه لزوماً تا ابددرزيرتاثير نفوذ وتسلط يهود ونصاري خواهند ماند .

سودان ومصر هردوتحت اشغال بريتانيا قرارداشت درسالهاي سي ام اين قرن هنګاميکه آنکشور به استقلال سودان وکشورهاي ديګرعربي رغبت نشان داد مي توانست شمال سودان اسلامي وعربي را به مصرملحق کند ، جنوب سودان موجوده را که بيشتر بت پرستان - بي دينان ومسيحيان زندګي دارند به کينيا و ايتوپيا که هردومسيحي هستند ضم نمايد وآسباب نزاع آينده دربيرزمين مرفوع مي ساخت .

وليکن استعمارانګليس بعد از خروجش درسودان همچون سايرمستعمرات ومتصرفاتش درجهان بم عبارشده را ګذاشت . تا هروقتيکه لازم بداند انفجارش بدهد . تا آنکه اين مناطق درګيرکشمکش دائمي باشند وغرب سلطه اش را بر آنها تحميل کند ودرمصالح وسرنوشت شان بنام سازمان ملل - سازمان حقوق بشر وازين قبيل غرب براي تحقق اهداف واغراضش تاسيس کرده است، مداخله کند.

بنابراين مشکل جنوب سودان از زمان استقلال آنکشوردرسال ۱۹۵۶ موجود بوده وبا تناسب علايق ديني حکومات خرطوم فزوني وکاستي مي يافته است.

درين شکي نيست که عنصر اعتقادي اساس اين جنګ ها بوده هريك از کشورهاي ايتوپيا - کينيا ويوګندا (اززمام داري عهدي امين به بعد) متکاي اساسي ومدخل اصلي مداخلات مسيحيان درجنوب سودان بوده اند.

کنيسه که درپايتخت کينيا قرار دارد مرکز اداره جنګ در جنوب سودان ګرديد وتاامروز کمك ها به جنوب سودان از طريق کينيا مي رسد تا آنجا که کار به جبلنغ اردوګه اسلام وصليبي کشيد . وزيرفرانسوي در کابينه فعلي فرانسه از طريق کينيا باحمايت نيروهاي مسيحي بدون اجازه وحتي آګاهي حکومت سودان به حدود استوائي وارد ګرديد . اين کار وي به اين مطلب دلالت دارد که غرب جنوب سودان را خارج ازحيطه حاکميت خرطوم مي شناسد.

وقتيکه جهان غرب ازخلال ګزارش هاي که منابع ووسايل استخباراتي ګوناګون به آن ارايه داشت دريافت که سودان راه راست اسلامي راپيشګرفته است براي سقوط اين کشور به جنګ پنهاني اقدام کرد.

ونخستين معرکه آوردن فشار اقتصادي برسودان ازطريق صندوق وبانك بين المللي پول وپس خواستن فوايد قروض بودکه دراثرسياست هاي حکومات ګذشته متراکم ګرديده بود.

وهمچنان تعديلات ريشه ئي اقتصادي راانجام دادکه خواه ناخواه باعث افزايش بيش ازحد اسعار ميګرديد تا ملت با ترئيد مشکلات زندګي دراثر افزايش نرخ برحکومت بشورند واسباب سقوط آنرا فراهم آورند .

بيائيد با تبارز چهره حقيقي خرطوم از خلال آنچه که وسايل اعلام ګوناګون به نشررسانده چګونګي تطور مواضع کشورها را ازهمکاري قوي به مواضع بي طرفانه وبعضاً دشمنانه عليه سودان بررسي نمايم . وبراي توضيح بهتر يکي از محور هاي اساسي را که روابط خارج با سودان بګرد آن مي چرخد را درنظربګيريم .ومواضع کشور هاي را به اساس اين محور که عبارت ازجنګ جنوب سودان مي باشد ارزيابي کنيم .

مشکل جنوب سودان چيست ووري چه علت از چهارسال به اينطرف ادامه دارد.

مون ادت نائب امين رابطه اسلامي جنوب مي ګويد با مقارنه تعداد مسلمانان وبت پرستان درجنوب مسيحيان دراقليت اند (۱) زيرا ۶۵٪ اهالي جنوب بت پرستان و ۱۸٪ مسلمانان و۱۷٪ مسيحيان مي باشند پس مسئله اين نيست که اکثريت اهالي جنوب حکومت مرکزي خرطوم رانمي خواهند وحکومت ديګري راتقاضا دارند .

پس مشکل چيست ؟

وقتيکه بريتانيا مصر را اشغال نمود سودان نيز تحت نفوذ آنکشور قرارګرفت هدف استعمار انګليس اين بود که سودان را درچهار چوکات سياسي نګاهدارد که تا ازنقطه نظرسياسي - اقتصادي وفرهنګي ازمصرمنعزل باشد. هدف ازاعتراف به مبدا وحدت جغرافياي سياسي سودان توسط لارد کرومرنماينده انګليس درمصردرسال ۱۳۸۲ اين بودکه طرح انعزال سودان ازمصرعملي ګردد .

درسال ۱۸۸۲ کرومرطرح تقسيم سودان را بخاطري ردکردکه قسمت شمالي آن به مصروقسمت جنوبي به شرق افريقا ملحق ميګرديد واين کاردرآنوقت يك امرطبيعي محسوب مي شد.

بريتانيا براي تطبيق اين طرح و تضعيف وجود مصريها درسودان به تحريك شورش ها وفتنه هاي ضد مصري اقدام نمود واين وضعيت تاسال ۱۹۲۲ دوام کرد وطرح جدايي اداري جنوب سودان را از شمال آن پيش کشيده آنراتحت تسلط حکومت محلي قرارداد.

وضعيت بهمين منوال تا سال ۱۹٤۹ م تا وقتيکه نشانه ها ي حرکت هاي آزاديخواهانه درمستعمرات بريتانيا عليه استعمار بريتانيايي اشکارشد ادامه يافت . درين ايام بريتانيا طرح سياسي مخالف طرح کرومر پشنهاد جدايي کامل جنوب سودان را از شمال آن مطرح کرد.

